UNITED NATIONS NATIONS UNIES

# پیام سرمنشی ملل متحد
## بمناسبت روز جهانی آزادی مطبوعات
## 3 می 2006 (13 ثور 1385)

اطلاعات در هرسوی ما قرار دارد. همراه با ازدیاد به اصطلاح رسانه ها، تکنالوژی و طرق جدید پخش محتویات، اطلاعات بیشتر قابل دسترسی بوده و در عین زمان متمایز نیز اند. به گونه مثال تسهیل گزارش دهی به "وسیله مطبوعات مشارکتی" مانند ویب لاگز تکمیل گردیده است.

اما با انکشاف مطبوعات و خبرنگاری بعضی اصول اساسی یکبار دیگر برجسته باقی میماند. بمناسبت روزجهانی مطبوعات میخواهم حمایت قوی خویش را از حقوق جهانی آزادی بیان اعلام دارم. بسیاری از اعضای مطبوعات بخاطر پیگیری نمودن حق با وجدان پاک کشته، مورد ضرب و جرح، زندانی یا به اشکالی دیگر مورد هدف قرار گرفتند. براساس گفته کمیته حمایت از خبرنگاران، در سال 2005 میلادی به تعداد 47 تن کشته شدن و 11 تن دیگر زندگی خویش را در سال جاری از دست داده اند این غم انگیز و غیر قابل قبول است که کشته شدن تعداد ژورنالست ها در حین اجرای وظیفه منحیث تغیر در اندازه گیری آزادی مطبوعات شمرده شود. از همه حکومات میخواهم تا یکبار دیگر تعهد شان را مبنی برحق " جستجو، اخذ، و پخش اطلاعات و طرز فکر از طریق هرگونه رسانه ها بدون درنظر داشت مرز" همانطوریکه در ماده (19) اعلامیه جهانی حقوق بشر تسجیل یافته تایید نمایند.

در عین حال از هریک درخواست مینمایم تا این حق را بطور مسئولانه و تا جای ممکن فعالانه عملی نمایند. مطبوعات با سلوک انسانی تاثیر قوی دارد. چنانچه مجمع عمومی در قطعنامه اخیر خویش ایجاد شورای جدید حقوق بشر ملل متحد را تصریح کرد که آنها یک نقش مهم را در تحقق بردباری، احترام و آزادی عقیده و مذهب بازی مینمایند. مطبوعات نباید وسیله تحریک، تحقیر و یا پخش تنفر باشد. مطبوعات باید وسیله ممکن کاربرد بصیرت بدون تخطی وزریدن از آزادیهای اساسی باشد.

بمناسبت روز جهانی مطبوعات بیایند تصدیق نمائیم که مطبوعات ملی و جهانی نه تنها پیرامون تغییرات گزارش میدهد بلکه خودنیز اسباب تغییر اند. ما هم باید مدیون کار و پندار های مطبوعات باشیم. باور دارم که هم مطبوعات کهنه و هم جدید قادر به دوام کارشان بدون تهدید ،هراس و سایر محدودیت میباشد.

# د مګرو ملتونو دعمومي منشي وينا
## د رسنيو د آزادي د نړيوالي ورځي په مناسبت
## کال ۲۰۰۶ د مي د مياشتي دريمه

زموږ په چاپيريال کی معلومات شته. په اصطلاح نويو رسنيو، نوي تکنالوژيو اود معلوماتو د محتوياتو د ويشلو لپاره نوي لاري شته. او په همدي ډول په معلوماتو کي تنوع منځته راغلي. د رپوټ ورکولو اصلي جريان د مثال په توګه د مشارکتي رسنيود رپوټ ورکولو جريان، لکه شخصي خبري ويب پاڼو په شان بشپړ کيږی. څومره چې رسني او ژورناليزم په تدريجي توګه وده کوي بيا هم يو شمير بنسټيز اصول خپل اهميت ساتي. د رسنيو د آزادي د نړيوالي ورځي په مناسبت زه بيا د بيان د آزادي د نړيوال حق څخه خپل کلك ملاتړ څرګندوم.

د رسنيو زيات شمير کارکونکو خپل ژوند له لاسه ورکړی، معيوب شوي، توقيف شوي اويا په نورو ډولونو پدي خاطر تر تعقيب لاندي نيول شوي چه هغوي خپل کارونه په پوره وجدان سره تر سره کول.

د ژورنالستانو د ساتني کميټي د رپوټ پر اساس په کال ۲۰۰۵ کي ۴۷ تنه ژورنالستان وژل شوي او سږ کال تر اوسه ۱۱ تنو پدي لاره کي خپل ژوند له لاسه ورکړي. دا يو غم لړلي\تراژيکه ا و د نه منولو وړ موضوع ده چې د د رسنيو د آزادي د کچي د اندازه کولو تر سرليك لاندي د هغو ژورنالستانو شمير چي خپل ژوند يي له لاسه ورکړي راځي.

زه د ټولو حکومتونو څخه په کلکه غوښتنه کوم چي د پولو د نه په نظر کي نيولو سره، لکه څرنګه چې د بشری حقونو د نړيوالي اعلامي په ۱۹ ماده کی بيان شوی، د ټولو رسنيو له طريقه د معلوماتو، نظرياتو د "لټولو"، او لاسته راوړلو لپاره پر خپلو ژمنو يو وار بيا تا کيد وکړي.

په عين حال کې، زه د هريوه څخه غوښتنه کوم چې خپل حق د مسوليت په درلودلو سره او که چيري ممکن وي په فعال ډول وکاروي. ډله ايزې رسنۍ د انسانانو په کړو وړو باندې غښتلې اغيزې لري.

په همدې ډول، او لکه څنګه چې عمومي اسامبلې په خپل ورستې پريکړه کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د نوې شورا تشکيل تصديق کړي، هغوې د زغم د پيدا کولو، د مذهبي آزادي او عقيدي د درناوي په هکله يوه مهمه ونډه لري. ډله ايزي رسنۍ بايد د تحريک، تحقير يا کرکې د خپريدلو وسيلې ونه ګرځي. دا بايد ممکنه شي چې د اساسي آزاديو د ورو ورو لاندې کيدنې څخه پرته بصيرت وکارول شي.

د مطبوعاتو د نړيوالې ورځې په مناسبت، راځې دا ومنو چې داخلي او بهرني رسنيی نه يوازې د بدلون په هکله رپوټ ورکوي بلکې هغوې پخپله د بدلون عناصر دي. موږ ټول بايد د مطبوعاتو د کار او تفکر څخه درناوي وکړو. زه باور لرم چې پخواني او نوې مطبوعات به يو شان د دي توان ولري چي خپل کار ته د ګواښونو، ويري او اجبار څخه پرته دوام ورکړي.